# اونیز راستنیدنه
# هفته نامه عودت

د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۸۷ مه ګڼه،مرغومي۱۴۰۴:لومړی مخ/ شماره ۸۷ جدی ۱۴۰۴:صفحه




## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د بشري مرستو د همغږۍ په برخه کې د یوناما له مرستیال اندریکا راتوته سره وکتل

په دې ناسته کې راستنو شویو افغانانو ته د مرستو رسولو او د اړوندو چارو پر وړاندې د شته خنډونو د حل په اړه خبرې وشوې. د یوناما مرستیال ښاغلي اندریکا راتوته د کډوالو چارو وزارت له همکارۍ او له اغېزمن کار څخه په خوښۍ وویل، چې روان زیږدیز کال د ملګرو ملتونو ادارو د افغان کډوالو د ستونزو د حل په موخه دوه نیم میلیارده امریکایي ډالره مصرف کړي دي، چې دا له افغانانو سره د ملګرو ملتونو د مرستو ژمنتیا په ډاګه کوي.

ښاغلي راتوته د ملګرو ملتونو د معلوماتو پر بنسټ زیاته کړه، چې د کډوالو د بېرته راتګ له امله په لنډه موده کې د افغانستان د وګړو شمېر لس سلنه ډېر شوی، چې د اسلامي امارت او ملګرو ملتونو په هڅو وضعیت په ښه ډول مدیریت او له ناورین څخه مخنیوی شوی دی.

د بشري مرستو د همغږۍ په برخه کې د یوناما مرستیال د کډوالو او بېځایه شویو په برخو کې د اسلامي امارت له ادارو سره پر لاډېره همکارۍ او همغږۍ ټینګار وکړ او یادونه یې وکړه، چې د راتلونکی کال لپاره د کډوالو د اړتیاو مشخصولو په موخه به له کډوالو چارو وزارت سره ګډ کار ته دوام ورکړي.

نوموړي د خپلو خبرو پر دوام په هېواد کې د کډوالۍ د دایمي حل د مسودې پر چارو خوښي څرګنده کړه او دغه راز یې له پاکستان څخه افغانستان ته د ملګرو ملتونو د بشري مرستو پر راڼېږد خپل وړاندیزونه له محترم وزیر سره شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر ښاغلي اندریکا راتوته او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست وویل او له افغانانو سره یې د ملګرو ملتونو له مرستو مننه وکړه.

محترم وزیر زیاته کړه، چې اسلامي امارت په روان ژمي کې له راستنو شویو سره د بېړنیو مرستو پلان چمتو کړی، چې په ټول افغانستان کې به پلی شي او په هر ولایت کې به له زرو کورنیو سره د خوراکي توکو ترڅنګ نغدي مرسته هم وشي .

محترم مولوي عبدالکبیر زیاته کړه، چې د کډوالو چارو وزارت د اهل خیر خلکو په همکارۍ راستنو شویو ته د مرستو لړۍ پیل کړې او تمه یې څرګنده کړه، چې زرګونو کورنیو ته به اړتیا وړ خوراکي مواد ورسېږي.

د ناستي پر دوام محترم مولوي عبدالکبیر د خوړو او سرپناه په برخه کې د راستنو شوو د ستونزو اړوند موضوع ګانې د یوناما له مرستیال سره شریکې کړې او یادونه یې وکړه، چې د یوناما پر وړاندیزونو به غور وکړي.



## په ۱۱ ولایتونو کې تر زرو زیاتو کورنیو سره مرسته وشوه

روانه اونۍ په کابل، لوګر، ننګرهار، سمنګان، سرپل، ارزګان، بغلان، غور، فراه، غزني، میدان وردګ ولایتونو کې له یو زر۳۴۵ بېځایه شویو، راستنو شویو، اړمنو کورنیو او کوربه ټولنو سره د نغدي، خوراکي او غیرې خوراکي توکو مرسته وشوه.

د یادو ولایتونو د راپورونو له مخې، د مهاجرینو چارو وزارت د همکارو بنسټونو له لوري په کابل کې له ۹۱ کورنیو سره یو میلیون ۲۲۹ زره ۳۵۰ افغانۍ، سمنګان کې له ۳ کورنیو سره ۹۲ زره ۷۹۰ افغاني، ننګرهار کې ۶۰۸ کورنیو سره ۸ میلیونه ۷۷۵ زره ۳۲۰ افغاني، سرپل کې ۲۷ کورنیو سره ۱۴۵ زره ۲۰۰ افغاني، فراه کې ۱۴۰ کورنیو سره ۲ میلیونه ۵۳۰ زره ۲۰۰ افغانۍ، ارزګان کې ۱۶۹ کورنیو سره ۶۳۵ زره ۴۴۰ افغانۍ، غور کې له ۱۶ کورنیو سره ۴۹۴ زره ۸۸۰ افغانۍ، غزني کې ۷۶ کورنیو سره یو میلیون ۳ زره ۲۰۰ افغانۍ، لوګر کې ۱۰۲ کورنیو سره ۵ قلمه خوارکي توکو او د روغتیایي کڅوړو، بغلان کې ۷۰ کورنیو سره ۹ قلمه خوراکي او غیرې خوراکي توکو او په میدان وردګو کې له ۴۳ کورنیو سره ۸۶۹ زره افغانۍ مرستې وشوې.

همدرانګه د همکارو بنسټونو له لوري د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې له ۵ زره ۴۷ اړمنو کسانو سره ۱۴ میلیونه ۶۳۶ زره ۳۰۰ افغانۍ او د ماشومانو لپاره د غذایي توکو کڅوړې، سمنګان، بغلان او بدخشان کې ۶۷ تنو ته ۳۱ قلمه د خیاطۍ وسایل او جوزجان کې ۴۲ کسانو ته ۲۰ قلمه د قالینو جوړولو وسایل مرستې وشوې.



## دو تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

به ارزش ۵۱۵ هزار و ۷۰۰ دالر امریکایی، دو تفاهم نامه همکاری میان موسسات هماهنگی کمک های بشری خدمات اجتماعی زنان افغانستان و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه های عقد شده، مبلغ فوق در بخش ارایه خدمات در خط فرضی تورخم و فراهم آوری فرصت های شغلی در ولایات ننگرهار، بادغیس، هرات و فراه به مصرف میرسد که تعداد ۸۶۸ هزار و ۶۸۸ تن بیجاشده برگشت کننده و جامعه میزبان از آن مستفید خواهند گشت.



## بیش از ۳۰۰ تن مهاجر پس از آزدای از زندان های پاکستان برگشت نمودند

۳۴۵ تن از افغان های مهاجر محبوس که در زندان های کشور پاکستان حبس بودند، رها و پس از آزادی به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت انتقالات مهاجرین ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت قندهار در سپین بولدک افراد یاد شده در بخش های مختلف پاکستان بازداشت شده بودند و مدت یک روز الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از ثبت درآن آمریت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.